# اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ، وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ». «په خلکو کې د کفر دوه خویونه دي چې يو يې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ويل او بل يې په مړو فرياد کول دي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ، وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ». «په خلکو کې د کفر دوه خویونه دي چې يو يې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ويل او بل يې په مړو فرياد کول دي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلکو کې له دوو کفري او د جاهليت له خويونو څخه خبر ورکوي چې هغه دواړه: لومړی: د خلکو په نسبونو کې خبرې کول، نېمګړتياوې يې بيانول او ځان پرې پورته ګڼل. دويم: د مصيبت پر مهال پر تقدير د ناخوښۍ له امله په لوړ غږ چيغې وهل او يا د ډېر فرياد له امله د جامو څيرې کول.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6361

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee